PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN

د فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکز خپل لومړی محکمه ترسره کړه

کابل، د نومبر 13 مه

د نومبر په 12 مه د فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکز خپل لومړنۍ قضايي ناسته ونيوله. دغه ناسته په علني توګه ترسره شو او د مدني ټولنې استازو، رسنيو، ملي او نړيوالو څارنکو لخوا پکې ګډون او څارنه وشوه.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي فرانز مايکل ميلبن وايي: " د فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکز د محاکمې د لړۍ پيل، د فساد ستر دوسيو او د دولت لوړپوړو چارواکو تر تعقيب لاندې نيولو په برخه کې د افغانستان د حکومت د ژمنې څرګندونه کوي. موږ تمه لرو چې راتلونکي محاکمې همدارنګه په ښکاره توګه ترسره شي. افغانستان بايد د معافيت کلتور پای ته ورسوي."

د فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکز د اروپايي ټولنې د فساد پر وړاندې د مبارزې د کنفرانس، چې د روان کال د مې دمياشتې په پنځمه نيټه د ولسمشر محمد اشرف غنی په کوربه توب د ولسمشر په مانۍ کې ترسره شوی وو، د وړاندیزونو سره سم رامنځته شوی دی.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې پلاوی د افغانستان دولت هڅوې ترڅو د هوکړې پر بنسټ د فساد پر وړاندې د اغيزمن ګامونو پورته کولو ته دوام ورکړي.

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu